مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۰۱/۰۱

# مبارکي

زمان ولاړ دی،

زمان نه تېرېږي.

موږ یو، چې ځو او پر زمان تېرېږو.

زمانه نه مري، موږ مرو.

کال هم زموږ ذهن کې زوړ شي، تېر شي

نوی کال راشي،

موږ زاړه کړي، ولاړ شي.

که موږ بدل نه شو، ژوند نه بدلیږي.

که موږ بدل نه شو، کال نه بدلیږي.

چې نه بدلیږو، نو د څه مبارکي درکړمه؟

کلونه کیږي چې په تمه ناست یم،

که ته بدل شې، ما بدل کړې، دا جهان او دا زمان بدل کړې،

بیا به یوه کېږدۍ ګلان دروړمه

یوه توده، یوه غلمینه ډوډۍ

لږ د انګورو اوبه

او د موسکا له کروندې نه پاڼه پاڼه دمه

هله به تاته، ځان ته

د دې نوښت په نامه

د نوي ژوند او د بدلون مبارکي ووایم.

2021لومړۍ ورځ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ